عبدالوحید وحید
۲۰۲۶/۰۷/۲۸

# بدخشان؛ د تاوتریخوالي تر شا پراته عوامل او د حل لاره

له لاندي لیکني څخه د لیکوال موخه یوازې خپل ولس ته په زغرده دغه پیغام رسول دي چي د نظامونو د نسکوریدو په نتیجه کي ترلاسه شویو تجربو راته وښودل چي که څه هم نظامونو خورا زیاتي ستونځي او نیمګړتیاوې درلودې، خو د زور له لارې د نظامونو نسکوریدو هم هېواد او ولس ته زیانونه رسولي دي. د سمون او بدلون لپاره د نظام په وړاندي جګړه نه، بلکي سوله ییزو مبارزو ته د دوام ورکولو هوډ یوازنی حل لاره ده.
په بدخشان کي روان تاوتریخوالي ته یوازې د یوې سیمه ییزې امنیتي ستونځي په توګه کتل ښه لیدلوری او د ستونځو حل لاره نه ده. دغه زیاتیدونکی بحران د افغانستان د کورنیو نیمګړتیاو، د طبیعي سرچینو د مدیریتي تشو، د پردیو جیوپولیتیکي رقابتونو، په ځانګړې ډول د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اختلافاتو له امله د رامنځته شوي وضعیت په چوکاټ کي د تحلیل وړ دي. هر هغه تحلیل چي دغه بحران یوازې کورنی یا یوازې بهرنیو عواملو ته منسوب کړي، د ستونځو بشپړ انځور نه، بلکي د واقعیتونو یوه برخه راسپړي
په تېرو څو کلونو کي د افغانستان او پاکستان اړیکي له یوه نوي ستراتیژیک تقابل سره مخ شوې دي. د ډیورنډ کرښي په اوږدو کي امنیتي کړکیچونه، د ترانزیتي محدودیتونو زیاتوالی، د افغان کډوالو جبري ایستل، او د متقابلو امنیتي تورونو تسلسل د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې‌باوری کچه لوړه کړې ده. په داسي چاپېریال کي، هغه سیمي چي لوړ جیوپولیتیک او اقتصادي ارزښت لري، د فشار، نفوذ او رقابت د احتمالي ډګر ګرزیدو بنه خپلوي. بدخشان هم د همدغي جیوپولیتیک معادلي یوه مهمه برخه ده.
بدخشان د افغانستان له هغو سیمو څخه دی چي له پاکستان، تاجکستان او چین سره نښلېدونکې ستراتیژیکه جغرافیه لري، د سرو زرو، لاجوردو او نورو قیمتي کانونو پراخې زېرمې پکې پرتې دي، او تر ټولو مهمه دا ده چي د سیمي له اقتصادي دهلېزونو سره د نښلېدو وړتیا لري. په نړیوال سیاست کي هره سیمه چي د طبیعي شتمنیو، ترانزیتي موقعیت او امنیتي ارزښت ځانګړتیاوې ولري، په طبیعي ډول د سیمه‌ییزو سیالیو په محاسباتو کي مهم ځای خپلوي.
له بلي خوا، د بدخشان ستونځه یوازې له بهرنیو لاسوهنو څخه هم سرچینه نه اخلي، بلکي په کور د ننه نیمګړتیاوې، د خلکو د مشارکت ستونځه، د کانونو په مدیریت کي د شفافیت موضوع، د عدالت احساس او داسي نور د امنیت د ترینګلتیا اساسي عناصر دي. که د خلکو او نظام ترمنځ واټن شتون ونلري، بهرني استخباراتي شبکي د نفوذ لپاره مناسب فرصتونه نشي ترلاسه کولای. له همدي امله، کورنی کمزورتیاوې او بهرنی فشار د یوه او بل بدیل نه بلکي یو بل بشپړوي.
په افغانستان کي د پاکستان تیرو نیابتي تګلارو ته په کتو او له دغه هېواد سره د روانو اختلافاتو په رڼا کي ویلای شو چي د بدخشان په ناامنیو کي د اسلام‌آباد د رول په اړه پوښتني مطرح کېږي. پاکستان لا هم افغانستان د خپل نفوذي ایکو سیستم یوه مهمه برخه ګڼي او په ښکاره ډول امنیتي اندېښني ددغي تګلارې د توجیه کولو لپاره بانه ګرزوي. کره سرچینو ته د لیکوال لخوا د لاسرسي د نشتون پربنسټ تحلیل ایجابوي چي پردیو ته د ګوتي له نیولو سربیره په خپلو نیمګړتیاو باندي هم تمرکز او پانګونه وشي.
البته د بدخشان د وروستیو پیښنو تحلیل باید د افغانستان او پاکستان د اړیکو له تاریخي او ستراتیژیک چوکاټ څخه جلا ونه ارزول شي. د تېرو پنځو لسیزو تجربه ښیي چي پاکستان د افغانستان په امنیتي او سیاسي معادلو کي د نفوذ موندلو لپاره په پرله‌پسې توګه له بېلابېلو مستقیمو او غیرمستقیمو وسیلو څخه کار اخیستی دی. دا یوازې یوه سیاسي ادعا نه، بلکي د ګڼو نړیوالو څېړنو، د پخوانیو پاکستاني چارواکو د څرګندونو او د سیمي د تحولاتو له لارې مستنده شوې موضوع ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له همدې امله، د بدخشان په څېر ستراتیژیکو سیمو کې هره امنیتي پېښه باید د همدغه تاریخي شالید په رڼا کې وارزول شي. د استخباراتي نیرنګونو بڼه دا نه ایجابوي چې د عملیاتو په پایله کې ښکاره او مستقیم شواهد پرېږدي. برعکس، د دغو عملیاتو بریالیتوب تر ډېره په همدې پورې تړلی وي چې د طراح اصلي هویت پټ پاتې شي او دهویت د پټولو لپاره تاوتریخوالي د کورنیو اختلافاتو، سیمه ییزو محرومیتونو یا هم خپلواک امنیتي پاڅون په توګه توجیه شي. له همدې امله، د کره شواهدو نشتوالی په خپله د بهرنی لاسوهنې د نشتوالي دلیل نه ګڼل کېږي، په ځانګړي ډول کله چې د یوه دولت د چلن تاریخي شالید ، ستراتیژیکه انګېزه، د نفوذ ظرفیت او د ورته عملیاتو پخوانی بېلګې موجودې وي.
اصلي پوښتنه دا نه ده چې څوک جګړه کوي؟ اصلي پوښتنه دا ده چې څوک د افغانستان له نا امنه کولو څخه ګټه ترلاسه کوي؟ د معاصر جیوپولیټیک وضعیت ښیي چې ډېر وخت پردي استخباراتي اداري په خپله بحران نه رامنځته کوي، بلکې له موجودو تشو او نیمګړتیاو څخه د خپلو امنیتي، سیاسي او اقتصادي اهدافو لپاره استفاده کوي. له همدې امله، د بدخشان په څېر ستراتیژیکو سیمو کې د وروستیو نا امنیو ارزونه باید د سیمه‌ییزو ګټو او رقابتونو په پراخ چوکاټ کې ترسره شي.
که کابل غواړي چې د هر ډول بهرني نفوذ احتمال راکم کړي، یوازې عسکري ګامونه پورته کول بسنه نه کوي. اوږمهاله امنیت هغه وخت رامنځته کېږي چې له امنیتي اقداماتو سره هممهاله په مدیریت او له ولس سره په چلن کې بدلونونه رامنځته شي، قانون او د قانون عادلانه تطبیق، د طبیعي سرچینو شفاف مدیریت، اقتصادي فرصتونه او د محلي خلکو باور هم پیاوړی شي. هر څومره چې په کور د ننه ملاتړ او ملي یووالی زیات وي، په هماغه اندازه د بهرنیو استخباراتي او سیاسي لاسوهنو لپاره فرصتونه محدودېږي.
لنډه دا چې بدخشان د افغانستان او پاکستان د تقابل مستقیمه جبهه نه، بلکې په افغانستان کې د پاکستان د ستراتېژیک عمق د نیابتي جګړو د تکلارې انعکاس دی. مهمه خبره دا ده چې په هېواد کې سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ستونځو، بیکارۍ، په سیمه کې پرتو رقابتونو او حساسیتونو په افغانستان کې د امنیت تالا ترغه کولو لپاره پردیو استخباراتي خورا زیات فرصتونه رامنځته کړي دي. د پاکستان د لاسوهنو په وړاندې د اړینو ګامونو له پورته کولو سربېره باید په کورنیو نیمګړتیاو باندې هم تمرکز او پانګونه وشي.
البته ځمکنی واقعیت دادی چې افغان ځواکونه په عنعنوي جګړه کې د هېواد د جغرافیایي پولو هر کونج او هرې نقطې ته د رسیدو او امنیت رامنځته کولو وړتیا لري خو په هېواد کې روان وضعیت ته په کتو پردیو ته د امنیتي ننګونو راپورته کولو لپاره فرصتونه هم کم نه دي. تر هغو چې د سیمه کې د نیابتي رقابتونو امکانات شتون لري ، د بدخشان او نورو ستراتیژیکو سیمو امنیت به د سیمه‌ییزو رقابتونو له اغېزو څخه خوندي نه وي. د افغانستان ثبات نه یوازې د امنیتي عملیاتو ، بلکې د اړینو اصلاحاتو، ملي یووالي په برخه د یوه نوي بدلون غوښتنه کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ